دافغانستان اسلامي جمهوری دولت
د ټاکنوخپلواک کمیسیون

دولت جمهوری اسلامی افغانستان
کمیسیون مستقل انتخابات

Islamic Republic of Afghanistan
Independent Election Commission

# د ټاکنو خپلواک کمیسیون پرېکړه لیک

**شمېره:** ۳۵-۱۳۹۳

**موضوع:** ۱ . د ملي شورا مشرانو جرګې د انتصابي سناتور په توګه د ښاغلي فضل الهادي مسلميار ور پېژندل؛ او
۲ . د ۱۳۹۳ کال د ولسمشريزو ټاکنو د رأيو د تفتيش له بهير څخه د کتنې له پاره د امن بشري مؤسسې ته د باورليک صادورل.

**ځانګه:** د ټاکنو خپلواک کمیسیون دارالانشاء

**د غونډې نېټه او ځای:** د ۱۳۹۳ کال د زمري ۲۲مه، (د ۲۰۱۴ کال د اګست۱۳ مه) د ټاکنو خپلواک کمیسیون مرکزي دفتر.

**حاضر غړي:** ښاغلی ډاکتر احمد یوسف نورستاني، ښاغلی عبدالرحمن هوتکي، آغلې ګلالی اڅکزی، ښاغلی سرير احمد برمک، ښاغلی پوهاند محمد حسين ګرزيواني، ښاغلی محمد عزيز بختياري، ښاغلی قاضي سليمان حامد، آغلې ليلا احراري او آغلې شريفه زرمتۍ وردک.

د ټاکنو خپلواک کمیسیون د اساسي قانون د ۸۶ مادې د مندرجو حکمونو، د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت د ولسمشر د ۱۳۹۳ کال د چنګاښ مې‌اشتې د ۲۸ نېټې د ۲۸۹۴ شمېرې حکم او د ټاکنو قانون د ۵۵ مادې د حکمونو پر اساس پرېکړه وکړه چې:

1. ښاغلي فضل الهادي مسلميار دې د ښاغلي احسان الله بيات پر ځای چې له خپلې دندې يې استعفاء کړې ده، د ملي شورا د شپاړسمې تقنينې دورې په پاته موده کې د انتصابي سناتور په توګه معرفي شي.

2. د « امن بشري مؤسسې» بنسټ ته چې د کميسيون د مقرراتو پر بنسټ يې د باورليک د ترلاسه کولو له پاره لازم اسناد وړاندې کړي او د چلند اړوند اوصول يې هم لاسليک کړي دي، د ولسمشريزو ټاکنو د دويم دور د رأيو تقتيش له بهير څخه د کتنې له پاره دې ور ته د کتونکي بنسټ په توګه باورليک صادر شي او د دغه بنسټ يوازې دوو تنو کتونکيو ته دې په تفتيش بهير کې د ګډون له پاره کارتونه ورکړل شي.

| د پرېکړې مخالف | د غړيو نومونه | د پرېکړې موافق |
|---|---|---|
| | ښاغلی ډاکتر احمد يوسف | |
| | ښاغلی عبدالرحمن هوتکی | |
| | آغلې ګلالۍ اڅکزۍ | |
| | ښاغلی سرير احمد برمک | |
| | ښاغلی پوهاند محمد حسين ګرزيواني | |
| | ښاغلی محمد عزيز بختياري | |
| | ښاغلی قاضي سليمان حامد | |
| | آغلې ليلا احراري | |
| | آغلې شريفه زرمتۍ وردک | |